بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه ۱٦ محرم ۱۴۳۹هـ | ۲٦-۰۹-۲۰۱۸م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۰/۰۱

## مطبوعاتي اعلاميه

# افغان امنيتي ځواکونه؛ پر اوراسيا د امريکا د ولکې د ټينګښت لپاره د سون توکي

په افغانستان کې ناوړه امنيتي وضعيت او د نظامي او ملکي وګړو د تلفاتو زياتوالی سنا مجلس ته د امنيتي سکتور د وزيرانو د استجواب لامل شو. په دې ناسته کې د افغانستان د دفاع وزير په ښکاره تاييد کړه چې په تېره يوه مياشت کې د پوځ تر ۵۰۰ زيات سرتېري وژل شوي او تر ۷۰۰ زيات ټپيان شوي دي. د کورنيو چارو وزير هم د افغانستان د سنا په ناسته کې وويل چې هره ورځ د پوځ او پوليسو ۳۰ تنه سرتيري وژل کېږي.

په روان کال کې د افغان امنيتي ځواکونو د تلفاتو شمېرې دومره ټکان ورکوونکې او بې‌ساري دي چې د افغانستان دولت يې د پټولو امر ورکړی او له ډېر وخت وروسته دا لومړی ځل دی چې رسمي سرچينې د تلفاتو شمېرې بيانوي. که څه هم د قربانيانو د کورنيو نقل قولونه، د جګړې شدت او عملي واقعيتونه دا په ډاګه کوي چې د افغان امنيتي ځواکونو د تلفاتو کره شمېرې تر پورتنيو هغو څو برابره زياتې دي.

خو څه چې د بحث وړ دي، هغه دا چې د افغان سرتېرو وينه په کومه لار کې توييږي؟ د اسلام په لار کې که په اوراسيا کې د امريکا د سيمه‌ييزو ګټو د خوندي کولو لپاره؟

کره واقعيت دا دی چې د امريکا او افغانستان تر منځ د امنيتي تړون له لاسليک وروسته امريکايي ځواکونه د جګړې له لومړۍ کرښې څخه خورا خوندي اډو ته ستانه شوي، تر څو په کمو مالي او ځاني تلفاتو د افغانستان جګړه رهبري کړي. جنګي مسئوليتونه يې افغان امنيتي ځواکونو ته ورسپارلي او هغه وسله چې تر اوسه د اشغالګرو ځواکونو پر وړاندې کارول کېده، له دې وروسته د مسلمانو ورڼو په مقابل کې وکارول شوه. ښشکه په داسې حالت کې د افغان امنيتي ځواکونو تلفات زياتېږي او دا ځواکونه د سون د توکو په څېر د يوه مصرفي ځواک په توګه په اورسيا کې د امريکا د سيمه‌ييزو موخو او ولکې د ټينګښت لپاره کارول کېږي. امريکا او د افغانستان دولت د تلفاتو د کمولو لپاره هېڅ کوم ميکانېزم نه لري او يوازې د سرتېرو د مړو په شمېرلو بوخت دي.

نو لازمه ده چې د افغانستان مسلمان خلک د خاينو چارواکو او د دوی د بادارانو خيانت او د دې چټلې جګړې واقعيت درک کړي او پرېنږدي چې د خپلو اولادونو د وينې په بيه يې په افغانستان کې د امريکا جګړه‌ييز ماشين په حرکت راشي؛ بلکې هڅه دې وکړي چې د افغانستان د مسلمانو ځوانانو انرژي او ځواک د اسلامي دولت، د اسلام د حاکميت او د استعمار د جرړو په ايستلو کې مصرف شي، نه د اشغالګري امريکا د حاکميت په لاره کې، چې هره ورځ يې لاسونه د افغانستان د مسلمانانو په وينو سره دي او ماشومان يتيموي، ښځې کونډې کوي، کورنۍ بې سرپرسته کوي او د وير پر ټغر يې کېنوي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير ولايه افغانستان رسمي ويبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ايمېل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحرير رسمي ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ويبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info